**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د پوښتنې ځواب

## د کینیا ولسمشریزې ټاکنې
## (ژباړه)

**پوښتنه:**

«د کینیا اپوزیسیون مشر، اوډینګا، دوشنبه د ۲۰۲۲م کال د اګېسټ په ۲۲مه ستري محکمې ته د ولسمشریزو ټاکنو د پایلو په اړه - چې مرستیال ولسمشر ویلیم ریتو ګټلې - رسمي عریضه وکړه. د اسوشیټید پرېس د راپور له مخې، اوډینګا نن سهار ستري محکمې ته خپله عریضه وسپارله او د قانون له مخې باید د ۱۴ ورځو په جریان کې ځواب ورکړل شي» (انادولو خبري اژانس، ۲۰۲۲/۸/۲۲). د ۲۰۲۲م کال د اګېسټ په ۱۵مه اعلان وکړ چې ویلیم ریتو خپل سیال اوډینګا ته په ولسمشریزو ټاکنو کې په لږ توپیر سره ماتې ورکړې ده. یادې ټاکنې د ۲۰۲۲م کال د اګېسټ په ۹مه وشوې... په دغه ټاکنیز کمپاین کې څرګنده شوه چې مخکینی ولسمشر، کینیاټا د خپل مرستیال ویلیم ریتو مخالف دی او د هغه له سیال او د مخالف ګوند مشر، اوډینګا سره یې تر پخلاینې وروسته د ده ملاتړ پیل کړ. له اوډینګا څخه ملاتړ او د خپل مرستیال مخالفت ایا د خپل مرستیال د بري ډاډمنولو لپاره د کینیاټا لوبه نه وه؟ د کینیا پر وړاندې د امریکا پټ اقدام څه دی؟ ایا د امریکا او برېتانیې ترمنځ لانجه شته؟

**ځواب:**

د دې لپاره چې د پورته پوښتنو لپاره ځواب پیدا کړو، د موضوع په تړاو لاندې ټکي تشریح کوو:

۱- د کینیا په اړه زموږ لېوالتیا له دې امله ده چې دا د افریقا د ښاخ سیمې یوه داسې برخه ده چې د یوې ستراتېژیکې او اقتصادي اسلامي سیمې په سترګه ورته کتل کېږي. د دې سیمې ډېری خلک مسلمانان دي او چارې یې د اسلام پر اساس مخ ته وړل کېدې. د افریقا د ښاخ هېوادونه یو له بل سره تړاو لري او ډېری یې تر برېتانوي استعمار لاندې وو. کینیا د مسلمان سلطان، زنګبار تر حاکمیت لاندې وه او د نولسمې پېړۍ په وروستیو کې د برېتانوي استعمار تر حاکمیت لاندې راغله. که څه هم د ۱۹۶۳م کال په پای کې کینیا خپلواکي ترلاسه کړه، خو دا خپلواکي تشریفاتي وه، ځکه برېتانیا اوس هم کینیا د خپلو مزدورانو په توګه اداره کوي. تر خپلواکۍ وروسته، په ۱۹۷۸ کې د جومو کینیاټا له واکمنۍ پیل، تر ۲۰۰۲ کال پورې د دنیېل اړپ موی تر واکمنۍ، تر ۲۰۱۳ پورې د ماوي کیبکي په واکمنۍ کې او د پخواني ولسمشر جومو کینیاټا د زوی، اوهورو کینیاټا تر واکمنۍ پورې کینیا د برېتانیې د مزدورانو له لوري اداره کېده. اوهورو کینیاټا د ۲۰۱۷ کال ټاکنې بیا ځلې وګټلې. برېتانیا له پلرونو نیولې تر زامنو خپل مزدوران او لاسپوڅي جوړوي؛ دا لاسپوڅي هغه چا ته واک نه سپاري چې د دوی په څېر غلام او استعمار ته وفادار نه وي.

۲- امریکا وکولی شول چې په اپوزیسیون کې ځان ته مزدوران پیدا کړي؛ په ځانګړي ډول اوډینګا چې له قومي اړخه په هېواد کې له درېیم لوی قوم څخه دی. له همدې امله دا هېواد د قبیلوي کرکټرونو د سیاسي استعماري شخړې شاهد و. د یاد هېواد ګوندونه قبیلوي دي او په عمومي ډول د خپلو پلویانو ملاتړ له همدې لارې ترلاسه کوي. قومي تړاو د یوه ګوند د غړو ترمنځ اساس دی. کله چې ټاکنې ترسره کېدې، د ټاکنو د پایلو تر اعلان وروسته لاریونونه کېدل او د قوم په پلوۍ وینې پکې تویېدې. ویلیم ریتو چې له کلینجین

قبیلې څخه دی؛ په وروستیو ټاکنو کې یې خپل بری اعلان کړ. مخکیني ولسمشر، ډانیل اریپ هم له همدې قبیلې څخه و. ریټو په دې ویاړي چې د مخکیني ولسمشر شاګرد او له ۱۹۹۲ کال راهیسې د هغه د ګوند غړی دی.

۳- د ټاکنو رسمي پایلې اعلان شوې چې ریټو یې په لږ توپیر سره ۵۰,۵٪ رایې ګټلې وې. په داسې حال کې چې اوډینګا ۴۸,۸٪ رایې خپلې کړې وې. د یادونې وړ ده چې د ټاکنو لوی کمیسیون کې اختلاف شته. د ټاکنو د کمیسیون مشر وفولا چیبوکتي وویل: «موږ د کینیایانو لپاره ازاد، عادلانه او باوري ټاکنې ډاډمنوو او دا یوه اسانه لار نه ده»، په داسې حال کې چې د نوموړي مرستیال جولیانا چیرا وویل، «موږ هغه پایلې نه شو منلی چې وروسته به اعلان شي؛ ځکه د عمومي ټاکنو د وروستي پړاو ماهیت تت و» (بي بي سي، ۲۰۲۲/۸/۱۵). د ټاکنو د کمیسیون له اوو څخه څلورو غړو د ټاکنو پایلې ونه منلې او د فساد ادعاوې یې وکړې. د پایلو په اعتراض کې لاریونونه وشول. اوډینګا وویل: «د شک د لرې کولو په موخه، غواړم تکرار کړم چې موږ هغه پایلې چې پرون د چیبوکتي له لوري اعلان شوې، په بشپړه توګه ردوو.» (انادولو، ۲۰۲۲/۸/۱۶). نوموړي سترې محکمې ته رسمي شکایت وکړ. د امریکایي خبري اژانس، اسوشیټید پرېس د خبر له مخې «اوډینګا نن سهار، د ۲۰۲۲م کال د اګېسټ په ۲۲مه خپلې اعتراض‌پاڼې سترې محکمې ته وړاندې کړې، چې د قانون له مخې باید په ۱۴ ورځو کې ځواب شي». که محکمه یاد وړاندیز ومني، د قانون له مخې به په ۶۰ ورځو کې ټاکنې بیا ځلې وشي او د اپوزیسیون د غلي کولو لپاره د دې احتمال شته؛ ځکه د دواړو ګوندونو ترمنځ تفاوت ډېر کم دی او د ټاکنو کمېسیون وېشل شوی دی؛ د دې لپاره تاوتریخوالی او ګډوډي هم نه رامنځته کېږي. دویم پړاو ته د ټاکنو تګ اپوزیسیون ته د ګټلو یوه هیله ورکوي؛ یا دا چې د دواړو ګوندونو ترمنځ اوډینګا ته صدر اعظمی ورکولو پر سر جوړجاړی وشي.

۴- له معمول سره سم، بایلونکی اپوزیسیون ادعا کوي چې په ټاکنو کې لاسوهنه شوې؛ په ځانګړي ډول په کینیا کې چې اپوزیسیون امریکایي پلوی وي او ګټونکی برېتانوي پلوی وي. په نورو هیوادونو کې چې د امریکا مزدوران واکمن وي، خبره برعکس وي. ځکه هره ډله غواړي له هرې ممکنې لارې ګټونکې شي او د خپلې واکمنی پر وخت خپل نفوذ وکاروي. په ۲۰۰۷ ټاکنو کې هر لوري د ټاکنو د ګټلو ادعاوې کولې. د دواړو لورو ترمنځ رامنځ ته شوې نښتې چې په ترڅ کې یې وینه توی شوه؛ ۱۲۰۰ کسان ووژل شول او د قبیلوي بریدونو له امله سلګونو زره خلک له خپلو مېنو بې ځایه شول. په اوسنی سناریو کې برېتانیې د اپوزیسیون د غلي کولو لپاره له چالاکۍ کار واخیست. برېتانیې داسې لومه په پام کې لرله: اوډینګا دې صدر اعظم شي، کیباکي دې د دولت رییس وي او ټول واک دې ورسره وي؛ د لومړي وزیر د صلاحیتونو پر وړاندې به خنډونه راولاړېږي. خو کینیاټا چې د ۲۰۱۳ ټاکنې وګټلې، د صدر اعظمۍ مقام یې منحل او ټول واک یې ځان ته محدود کړ.

د ۲۰۱۷م کال په ټاکنو کې، اپوزیسیون په ټاکنو کې د فساد اعاوې کولې او له سترې محکمې څخه یې د ټاکنو د بیاځلي ترسره کولو غوښتنه کوله. ټاکنې د ۲۰۱۷م کال په اکتوبر کې بیا وشوې، اپوزیسیون تحریم کړې او کینیاټا او مرستیال یې، ویلیم ریټو ګټونکي اعلان شول. دې ته په کتو سره، د امریکا ولسمشر، بارک اوباما هغه وخت منځګړیتوب وکړ؛ ځکه هغه هم کینیایي اصلیت لري! نوموړي د ارامۍ او د ټاکنو د پایلو د منلو غوښتنه وکړه، ځکه هغه پوهېده چې که ټاکنې بیا وشي نو د برېتانیې مزدوران یې ګټي. ځکه چې دوی هغه وخت هم دولت اداره کاوه. اوباما د کینیا له واکمنانو وغوښتل چې خبره یې ومني او پر کینیا د امریکا نفوذ زیات شي. دغه راز یې له فشارونو کار واخیست چې د کینیا راتلونکي واکمنان د امریکا مزدوران وي. برېتانیې په دوامداره توګه په کینیا کې د خپل له ګواښ سره مخ نفوذ ساتلو په موخه سیاسي

لوبې کوي. د برېتانيې مزدور کينياټا د امريکا له مزدور، اوډينګا سره د دوستۍ لوبه پيل کړه او له بل لوري يې ريټو پرېښود چې ټاکنې وګټي.

۵- دا پنځم ځل دی چې ريلا اوډينګا د ولسمشريزو ټاکنو لپاره ځان نوماندوي، مبارزه کوي او ټاکنې بايلي. نوموړی مخکې څلور ځله په ۱۹۹۷، ۲۰۰۷، ۲۰۱۳ او ۲۰۱۷ کې نوماند و؛ خو د انګليس مزدوران چې د کينيا د سياسي صحنې واک ورسره دی، نوموړي ته اجازه نه ورکوي چې ټاکنې وګټي. نوموړي هيله لرله چې د اوهورو کينياټا ځايناستی شي، ځکه هغه دوې دورې بشپړې کړې وې او د اساسي قانون له مخې يې درېيم ځل ځان نه شوی نوماندولای. اوډينګا او صالح کينياټا د ۲۰۱۸م کال د مارچ په ۹مه، د خپلو پلويانو تر څو مياشتيني خونړي تاوتريخوالي وروسته ايتلاف وکړ. ځکه مخکې اوډينګا د کينياټا برې په رسميت نه پېژانده او ځان يې د کينيا ولسمشر اعلان کړی و. دواړو لورو د لاس په ورکولو اختلافونه ختم کړل کينياټا يې د ولسمشر په توګه په رسيمت وپېژانده. اوډينګا ځکه کينياټا وستايه چې په وينا يې «نوموړی يو هېوادپال شخص دی او د پخلاينې لپاره يې لاره هواره کړه». ځينو فکر کاوه چې هغوی يوې موافقې ته رسېدلي دي چې په ترڅ کې به يې اوډينګا د کينياټا ځايناستی شي، يا په بل عبارت اوډينګا د برېتانيې مزدور شوی دی! خو کينياټا او د برېتانيې نور مزدوران په رامنځته شوې پخلاينه نه تېر وځي، بلکې ګټه ترې اخلي. کينياټا د ټاکنيز کمپاين په ترڅ کې يوه لوبه وکړه چې ځان د اوډينګا ملاتړی وښيي. نوموړي وويل: «ريټو حق نه لري او بايد په هېواد کې لوړ مقام ترلاسه نه کړي». ريټو يې په ځواب کې وويل چې کينياټا غواړي اوډينګا يې ځايناستی شي؛ ځکه هغه يو مزدور ولسمشر غواړي. (بي بي سي، ۲۰۲۲/۸/۱۶).

۶- د ريټو ګوند په ۲۰۱۲ کې تر توافق وروسته د کينياټا له ګوند سره يوځای شو. واکمن ګوند، جوبيلي د ۲۰۱۶م کال د سپټمبر په ۸مه له ۱۱ نورو ګوندونو سره د ۲۰۱۷ کال په ټاکنو کې برخه واخيسته او مشري يې کينياټا کوله. دا ايتلاف په ۲۰۱۳م کال کې په ټاکنو کې د کينياټا د ملاتړ لپاره جوړ شوی و. ريټو په دواړو دورو کې متحد او مرستيال و او نوموړی د انګليس د پخواني مزدور، دنيېال ارف مای ملاتړی و. نوموړي ځوانان د هغه د ملاتړ لپاره هڅول، نو ځکه يې د پخواني ولسمشر دنيېال ارف مای ملاتړ راخپل کړ او په حکومتي اډانه کې يې لوړو بستونو ته ترفيع وکړه. نوموړي په دې ډول د کورنيو چارو، کرهنې او لوړو زده کړو وزير په توګه کار کړی. دی او کينياټا د جرمونو نړيوالې محکمې له لوري په ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کلونو کې په جرمونو متهم شوي وو، خو د اروپا تنظيموونکې محکمې له لوري دواړه مبرا شول. کينياټا په ۲۰۱۴ او ريټو په ۲۰۱۶ کې، د ۲۰۱۷ ټاکنو کې نوماند کېدو په موخه د محکمې له لوري برائت واخيست او په ټاکنو کې يې بريا ترلاسه کړه. کينياټا ولسمشر او ريټو يې مرستيال شو. له همدې امله ريټو د انګليس له متعهدو مزدورانو څخه دی، د ټرون له مخې، نوموړی په اسانۍ سره له واکه نه شي ليرې کېدای او د امريکا مزدور اوډينګا يې نه شي ځايناستی کېدی؛ دا د انګليس چالاکي ښيي!

۷- کينياټا په ۲۶-۲۰۲۱/۷/۲۹ نېټه برېتانيې ته لاړ او د دغه هېواد له لومړي وزير، بوريس جانسن سره يې وکتل. ده وويل چې د ليدنې موخه يې د «کينيا او برېتانيې ترمنځ د ستراتيژيک مشارکت پياوړتيا ده». دواړو لورو د نوې دفاعي همکارۍ تړون لاسليک کړ. نوموړي اعلان وکړ چې د تړون موخه «د دواړو هيوادونو ترمنځ په ختيځه افريقا کې د ګډو امنيتي ګواښونو پر وړاندې د همکارۍ پياوړتيا ده.» (بي بي سي). کينياټا چې امريکا ته لاړ، هلته پرې د بشري حقونو تر پښو لاندې کولو او فساد کې د ښکېلتيا تورونه ولګېدل او د ده په اړه پندروما اسناد افشا شول؛ په داسې حال کې چې برېتانيې ته د سفر پر وخت هېڅ کوم تور پرې ونه لګېد؛ دا ځکه چې دی د برېتانيې وفادار مزدور دی! د يادونې وړ ده چې برېتانيه په کينيا کې د يوه تړون له مخې دوې نظامي اډې لري، چې يوه يې د کينيا پلازمېنې نايروبي ته څېرمه پرته ده او دنده يې په کينيا کې د برېتانيې نفوذ ساتلو په موخه د کينيا له سياسي ثبات سره مرسته کول دي او د دغه نفوذ

ساتلو په موخه د يادې اډې پوځيان تل د تيارۍ په حال کې وي. بله اډه يې د کينيا په شمال کې پرته ده چې دنده يې د بريتانوي ځواکونو روزنه ده چې په صحرايي او نيمه صحرايي سيمو کې يې جګړې ته چمتو کړي. بريتانوي ځواکونو په يو داسې سيمه کې په ريښتينو وسلو ريښتيې جګړې ته ورته پوځي مانورونه ترسره کړل چې په خپل هېواد کې يې د پوځيانو لخوا کارېدونکې سيمې څلور برابره ده. د راپورونو له مخې، په افغانستان کې جنګېدونکو برېتانيوي سرتېرو ته په همدغه اډه کې روزنه ورکول کېده. د بريتانوي اډو د شتون له امله، امريکا کينيا ته ارزښت ورکوي او هڅه کوي چې دا اډې بندي کړي.

۸- داسې ښکاري چې بريتانيې له کينياتا څخه غوښتي چې امريکا ته د دې لپاره يو سفر وکړي چې له اوډينګا سره خپله پخلاينه تاييد کړي، ترڅو امريکا په راتلونکو ټاکنو کې تحريموونکي اقدامات ونه کړي.

له همدې امله، د پلان له مخې کينياتا له بريتانيې څخه تر ليدنې دوې مياشتې وروسته امريکا ته لاړ. په ۲۰۲۱/۱۰/۱۴ نېټه د امريکا ولسمشر، جو بايډن د کينيا له ولسمشر، اوهورو کينياتا سره وکتل. نوموړی لومړنی افريقايي ولسمشر و چې له سپينې ماڼۍ يې ليدنه وکړه. د سپينې ماڼې وياندې جن ساکي وويل چې دواړه ولسمشران به «د امريکا-کينيا د دوه اړخيزو اړيکو د پياوړتيا او اړتيا په موخه په کورني او بهرني مالي سيستم کې روڼتيا او حساب ورکونه رامنځته کړي».

نړيوالو څېړونکو ژورنالستانو د «پنډورا په اسنادو» د کينياتا نوم ذکر کړی دی، چې پکې راغلي دي چې کينياتا د فساد پر وړاندې مبارزه کې خپله ژمنتيا نه ده ښودلې. دی او د کورنۍ شپږ غړي يې په پټه د ۱۱ کارخونو څښتنان دي؛ يو يې ان د ۳۰ مېليونو ډالرو ونډه پکې لري. د دې معلوماتو په ځواب کې جن ساکي زياته کړه، «ولسمشر په پراخه کچه په نړيوال مالي سيستم کې دغه بې نظمۍ (د پېسو ناوړه کارونه) غندي. د دې مانا دا ده چې موږ به له هغو خلکو سره نه کېنو چې له موږ سره توافق نه لري. يو شمېر مسايل شته چې موږ يې د کار کولو په تړاو لېواله يو او هغه به د دوو ولسمشرانو ترمنځ اصلي هدف وي. دواړه ولسمشران به له ډيموکراسۍ او بشري حقوقو څخه د دفاع، د سولې او امنيت ټينګښت، اقتصادي ودې غوړېدو او اقليمي بدلون پر هڅو باندې متمرکز وي» (فرانس پرېس، ۲۰۲۱/۱۰/۱۴). امريکا پر کينياتا له فشارونو څخه کار اخلي چې نوموړی د اوډينګا له نوماندۍ ملاتړ وکړي؛ نوموړي همداسې وکړل او ظاهراً ښکاري چې هغه د اوډينګا پلوی دی، خو دغه ملاتړ جدي نه دی، له منافقته ډک دی او موخه يې دا ده چې خپله رسوايي پټه کړي او امريکا يې پر وړاندې پاروونکي اقدامات ونه کړي او بدنام نه شي. د نوموړي لپاره ستونزمنه ده چې د درېيم ځل لپاره په ټاکنو کې نوماند شي. امريکا له دې خبرې سره خپل مخالفت وښود ... د امريکا بهرنيو چارو وزير، انتوني بلينکين په ۲۰۲۱/۱۱/۱۷ نېټه د افريقا د سفر په ترڅ کې کينيا، نايجريا او سينګال ته په اووه ورځني سفر لاړ. نوموړي د نايجريا په پلازمېنه کې وويل: «حکومتونه لږ رانه دي. موږ په افريقا کې دغه شی وينو، مشران خپلې ټاکنيزې دورې له پامه غورځوي، په ټاکنو کې لاسوهنه کېږي يا يې ځنډوي، د قدرت لاسته راوړلو او ساتلو په موخه له ټولنيزو شبکايتونو څخه په خپله ګټه کار اخلي، مخالفې څېړې نيسي، رسنۍ ځپي او امنيتي ځواکونو ته امر کوي چې د کرونا ناروغۍ محدوديتونه په زور او جبر پلي کړي. (شرق الاوسط، ۲۰۲۱/۱۱/۲۱)

په ورته وخت کې، د کينياتا ګوند د ريتو د ملاتړ په موخه لاريونونه کول، د ګوند دننه د برېتانيې مزدوران په لوبه پوهېدل او پر مخالفت سربېره يې بيا هم ريتو وټاکه.

۹- په افريقا کې د کينيا او سينګال په ګډون - چې د اروپا تر اغېز لاندې دي- ګڼ هېوادونه هڅه کوي چې د امريکا پر وړاندې له چين سره اړيکې پياوړې کړي. چين غواړي هلته خپل نفوذ پراخ کړي. سينګال چې

د فرانسې تر نفوذ لاندې دی، له چین سره خپلې اړیکې پیاوړې کوي. دا هېواد په ۲۹-۲۰۲۱/۱۱/۳۰ نېټه د چین-افریقا د همکارۍ غونډې کوربه و. د سینګال د بهرنیو چارو مرستیال وزیر وویل: «موږ غښتلې ډیپلوماسي لرو چې هېڅوک نه شو ترې بهر کولی». په داسې حال کې چې د بریتانیې او فرانسې په پرتله د امریکا نفوذ محدود دی، دا هېواد هڅه کوي چې له بېلابېلو لارو خپل نفوذ زیات کړي او هڅه کوي چې د چین له اقتصادي نفوذ سره سیالي وکړي؛ هغه اقتصادي نفوذ چې په مټ یې برېتانیا او فرانسه غواړي په افریقا کې خپل مزدوران ځواکمن کړي. په دې وروستیو کې، د چین بهرنیو چارو وزیر، وانګ یي په ۲۰۲۲/۱/۶ نېټه کینیا ته لاړ او هلته یې له ولسمشر کینیاتا سره وکتل. کینیاتا وویل: «چین یوازې د کینیا ریښتنی ملګری نه، بلکې د نیږدې همکارۍ یو پرمختللی همکار دی... د کینیا پراختیایي لاسته راوړنې به د چین له پیاوړي ملاتړ پرته نه وای ترلاسه شوې... کینیا کلک هوډ لري چې د عامه پرمختګ په موخه له چین سره دوه اړخیزه سوداګریزه همکاري لا زیاته کړي.» د چین د بهرنیو چارو وزیر، وانګ یي وویل: «چین کلک هوډ لري چې له کینیا سره هر اړخیزه همکاري پیاوړې کړي، ترڅو کینیا په نړیوالو او ګډ ملیتي چارو کې خپلې انکشافي اړتیاوې لوړې کړي، صنعت پراخ کړي او پیوستون او همږغۍ ته وده ورکړي». وانګ د «افریقا لپاره سوله‌ایز پراختیایي پلان» وړاندې کړ. کینیاتا وویل چې دا پلان د افریقایي هیوادونو مهمې اړتیاوې پوره کوي او نوموړي په دې برخه کې د همکارۍ ډاډ ورکړ. (شینهوا، ۲۰۲۲/۱/۶). امریکا چې په افریقا کې د اروپا د اغېز د له منځه وړلو او همدا رنګه د چین مخ پر زیاتېدونکي ځواک محدودولو په موخه کار کوي، پورتنیو خبرو نهیلې کړې ده.

۱۰- په پایله کې ویلای شو: په کینیا کې د برېتانیې نفوذ ډېر دی او ګڼ شمېر سیاسي لوبغاړي یې مزدوران دي. برېتانیا ده چې دا کسان اړتیا ته په کتو سره یو ځای کوي یا یې بېلوي. که د بریتانیې د مزدورانو او د امریکا د مزدورانو ترمنځ د تړون اړتیا وي، نو کله چې یې مزدوران قدرت ته رسېږي بیا واک د امریکا له مزدورانو سره شریکوي، په دې صورت کې هغه خپلو مزدورانو ته لارښوونه کوي چې د امریکا له مزدورانو سره یو ځای شي او په دې برخه کې تړون ورسره وکړي. که هغه (بریتانیا) د دې توان لري چې خپل مزدور، ریتو واک ته ورسوي او اپوزیسیون غلی کړي، نو له خپلو مزدورانو څخه د واک شریکولو غوښتنه نه کوي؛ ځکه مزدوران د هغې په ولکه کې دي او د امریکا د مزدورانو پشان یوازې صلاحیت غواړي. دا په هر هېواد کې د مزدورانو فطرت دی. امریکا به یاد هېواد پرې نه ږدي او هڅه به وکړي چې په کینیا کې خپل نفوذ پیاوړی کړي. دوی په کینیا او نورو افریقایي هیوادونو کې د وینې تویېدنې، ګډوډۍ او ناارامۍ په اړه اندېښنه نه لري؛ له بېلا بېلو لارو کار اخلي، هغه که اقتصادي وي او که سیاسي، امنیتي یا پوځي. امریکا هڅه کوي چې په دوو برخو کې؛ امنیتي پانګونې او د پوځ او امنیتي ځواکونو د روزنې په برخه کې د مرستې تر نامه لاندې مزدوران پیدا کړي. وروسته کار کوي او کودتاوو لپاره چمتووالی نیسي؛ لکه په مالي کې یې چې وکړه. یا لکه په چاد کې یې چې خلک پاڅون ته وهڅول او د دې پاڅون په پایله کې د فرانسې مزدور، ادرس دیبي ومړ.

ځکه نو یاد هیوادونه او ډېری اسلامي هیوادونه د امریکا، بریتانیې او فرانسې له لوري د نړیوالو ښکېلو په ډګر اوښتي دي. د کینیا لپاره هیڅ هیله نشته چې له هغه استعماري ښکېلې څخه چې د یاد هیواد د وروسته پاتې والي لامل شوې ده، ځان وژغوري او یو ښتمن هېواد دې شي. دا کار یوازې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر منهج د خلافت له بیا تاسیس کولو سره کېدای شي. رسول الله صلی الله علیه وسلم یې د بیا تاسیس کېدو په اړه زېری راکوي چې:

**«ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»**

**ژباړه:** «بیا به د نبوت پر منهج خلافت وي» [احمد]

۱۴۴۴ هـ.ق، د صفر المظفر ۱

۲۰۲۲م کال د اګېست ۲۲مه